مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۳۹۸ د غبرګولي ۲۷مه | د ۲۰۱۹ د جون ۱۷مه | درېیم کال| ۳۸۸یمه ګڼه


# د سولې عالي شورا: طالبان له افغان حکومت سره د سولې خبرو ته اراده نه لري




۳

## له حکومت سره د طالبانو د خبرو نه کولو ربړه به څنګه هوارېږي؟

۲ مخ

## کچالوهای قرمز شده

۲ مخ

## بهر مېشتي افغانان او د سولې په پروسه کې د دوی له پامه غورځېدلی رول!!

۳ مخ

## هېواد


۴ مخ

## ازبکستان

ازبکستان ۷۹۰ ډوله کاني زېرمې لري، چې اټکلي بیه یې څلورو تریلیون ډالرو ته رسېږي. دغه هېواد د یورانیمو په تولید کې اووم او د سرو زرو په تولید کې اتم ځای لري، چې په کال کې شاوخوا ۸۴ ټنه سره زر تولیدوي.



## په بلخ کې د اصلاح شویو تخمونو یو فارم ګټې اخیستنې ته وسپارل شو



د بلخ په دهدادي ولسوالۍ کې د ۱۱۰ میلیونو افغانیو په ارزښت، د اصلاح شویو تخمونو یو فارم ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

د کرنې او مالدارۍ وزارتویاند اکبر رستمي پرون ازادي راډیو ته ویلي، چې دغه فارم به په بلخ او د هېواد په شمالي ولایتونو کې د اصلاح شویو تخمونو اړتیاوې پوره کړي.

رستمي زیاته کړې چې له دغه فارم څخه په ګټې اخیستنې سره به د کرنې وزارت وکولی شي، چې په کلني ډول څه باندې ۵۵۰ متریک ټنه اصلاح شوي تخمونه تولید کړي. د نوموړي په خبره، له دې سره به په شمالي ولایتونو کې د اصلاح شویو تخمونو اړتیاوې پوره شي.

نوموړي ویلي چې دغه اصلاح شوي تخمونه به د کروندګرو په حاصلاتو او اقتصادي وده کې رغنده رول ولوبوي.

## د طالبانو سیاسي پلاوی تر چین وروسته تهران ته سفر کوي

طالبانو ته نږدې سرچینې وايي، د سیمې ځینې هېوادونه غواړي چې د افغانستان د سیاسي راتلونکې په تړاو د طالبانو له مشرانو سره وګوري. سرچینې ویلي، تر اوسه ایران ته د طالبانو کوم پلاوی نه دی تللی او هغه پلاوی چې باید ولاړ شي، اوسمهال د چین پر سفر بوخت دی.

ویل کېږي چې طالبان له امریکا سره له مذاکراتو راضي نه دي او له همدې امله یې د امریکا د سیاستونو مخالفو هېوادونو ته سفرونه پیل کړي دي.

سرچینو دغه راز زیاته کړې چې طالبان غواړي د افغانستان سیاسي راتلونکې په تړاو د ځینو مهمو هېوادونو له استازو سره خبرې وکړي.

پخوانی طالب چارواکی عبدالحی مطمئن وايي: «د سیمې ټول هېوادونه غواړي، چې د افغانستان په سیاسي مستقبل کې له طالبانو سره د یو مهم سیاسي طرف په توګه اړیکې ولري، څنګه چې طالبان د امریکا له متحده ایالتونو سره مسلسلې ناستې کوي، نو طبیعي خبره ده چې نور هېوادونه هم له طالبانو سره د افغانستان د سیاسي راتلونکې په اړه د خبرو تلوسه لري».

ټاکل شوې وه چې په نږدې راتلونکو ورځو کې په قطر کې د طالبانو او امریکایي پلاوي ترمنځ اووم پړاو مذاکرات پیل شي، خو تر اوسه د دغو مذاکراتو نېټه نه ده روښانه او له همدې امله زلمی خلیلزاد هم تر اوسه قطر ته نه دی تللی او د طالبانو د قطر سیاسي دفتر پلاوی هم د ځینو هېوادونو پر سفر بوخت دی.

## په ښوونځیو کې د امنیتي پوستو جوړول د پوهنې پر وړاندې جدي ننګونه ده



۵ مخ

## وزارت صحت عامه: در سال گذشته ۱۷۰۰ زن مبتلا به سرطان ثدیه جان‌های شان‌را باخته‌اند




وزارت صحت عامه افغانستان می‌گوید، در سال ۲۰۱۸ میلادی بیش از سه هزار زن به سرطان ثدیه مبتلا شدند که بیشتر از ۱۷۰۰ تن آن‌ها جان‌های شان‌را از دست داده‌اند.

تشخیص نادرست، هزینه بلند تداوی و نبود امکانات معیاری در بخش تداوی از مواردی اند که زنان مبتلا به سرطان ثدیه از آن شکایت دارند.

به اساس معلومات وزارت صحت عامه، سرطان دو عامل دارد؛ یکی عامل ژنیتیکی که جلوگیری آن بسیار مشکل و دیگر آن عامل غیر ژنیتیکی است که قابل جلوگیری می‌باشد.

عدم اجرایی فعالیت‌های فزیکی، چاقی، استفاده از مشروبات الکولی، اشعه مضره، سن بلند، نه گرفتن حمل و ندادن شیر به کودکان از عوامل عمدهٔ مبتلا شدن زنان به سرطان ثدیه عنوان شده‌است.

وزارت صحت عامه افغانستان می‌گوید، در سال ۲۰۱۸ میلادی سه هزار زن در کشور مبتلا به سرطان ثدیه بودند که ۱۷۰۰ تن آن‌ها جان باخته‌اند.

فدا محمد پیکان معین عرضه خدمات صحی این وزارت روز یکشنبه در اولین سمپوزیم ملی سرطان ثدیه در کابل گفت، با آن‌که کارها در زمینه تشخیص و تداوی سرطان‌ها به‌خصوص سرطان ثدیه انجام شده، اما این بسنده نیست.

او گفته است که خطاهای طبی یکی از مشکلات کشور ما است و توجه جدی تان را در این زمینه خواهانم، انشاالله در روزهای اخیر دو مرکز تداوی سرطان ثدیه در بلخ و هرات که هر یک دارای ده بستر است، باز می‌شوند.




دریـغ

## له حکومت سره د طالبانو د خبرو نه کولو ربړه به څنګه هواریږي؟

سولې عالي شورا وايي چې لا هم طالبان نه حاضرېږي، چې له افغان حکومت سره خبرې وکړي. د سولې عالي شورا مرستيال مولوي عطاالرحمن سليم ويلي، چې دوی بيا بيا هڅه کړې او زمينه يې برابره کړې چې طالبان ورسره خبرې وکړي، خو طالبان نه حاضريږي چې له حکومت سره خبرې وکړي.
تازه په قطر کې د طالبانو د سياسي دفتر وياند سهيل شاهين هم ويلي، چې دوی به له امريکايي اړخ سره خبرو ته دوام ورکړي، خو له افغان حکومت سره خبرې نه کوي.
تر دې وړاندې طالبانو د افغان سولې په تړاو په ناروې کې يوې غونډې ته له ورتګه هم له دې امله ډډه وکړه، چې دې غونډې ته حکومتي استازي وربلل شوي وو.
حکومت ټينګار کوي چې طالبان بايد ورسره خبرې وکړي او له دې پرته بله لاره نشته. د افغان سولې لپاره د امريکا ځانګړی استازی هم وايي چې طالبان بايد له حکومت سره خبرې وکړي، خو طالبان پر خپل دريځ کلک ولاړ دي او وايي چې له افغان سياستوالو، سياسي ګوندونو او نورو افغانانو سره خبرې کوي، خو حکومت سره خبرې نه کوي. دې چارې د سولې خبرې له خنډ سره مخ کړې دي او پوښتنه دا ده چې دا ستونزه به څنګه حل کېږي؟
پر طالبانو پوره فشار راغی چې له حکومت سره خبرې وکړي. زلمي خليلزاد ډېره هڅه وکړه، چې پر طالبانو نظامي او سياسي فشار زيات کړي. دغه راز پاکستان په دې برخه کې پر طالبانو فشار راوړ. له بله اړخه اماراتو او سعودي په دې چاره کې هڅې وکړې، خو د دې ټولو هڅو پايله يوازې دومره وه چې طالبان له ځينو حکومتي چارواکو سره خبرو ته حاضر شي، خو شرط به يې دا وي چې دا چارواکي به د حکومت په استازيتوب خبرې نه کوي، بلکې خپل شخصي نظر به بيانوي. له دې سره بيا هم ستونزه حل نه شوه.
اوس چې د زلمي خليلزاد او طالبانو ترمنځ د خبرو اووم پړاو پيلېږي او خليلزاد د ځينو توافقاتو او پرمختګونو خبره هم کوي، نو د مسئلې افغاني اړخ به څنګه کېږي؟ که طالبان په هېڅ ډول نه مني چې له حکومت سره خبر وکړي، نو پکار ده چې بديل پيدا شي. له يوه اړخه اوسنی حکومت د اساسي قانون پر اساس نامشروع دی او وخت يې پوره دی او له بله اړخه دوی د سولې په چاره کې ستونزې هم جوړوي، نو پکار ده چې د سولې لپاره د دغه حکومت پر بديل کار وشي. که طالبان حاضريږي چې له يوه بې طرفه او موقت حکومت سره خبرو ته کښېني، نو پکار ده چې د ستونزې د حل او سولې لپاره موقت حکومت جوړ شي. اوس به حکومتي چارواکي بيا ټينګار کوي چې موقت حکومت په اساسي قانون کې نشته. سمه ده چې موقت حکومت په اساسي قانون کې نشته، خو د ملي يووالي حکومت هم اساسي قانون کې نشته او د اساسي قانون پر اساس د حکومت وخت هم د جوزا په لومړۍ نېټه ختم شو. خو د دې لپاره چې د حکومتي مشرانو د واک دوام او شخصي ګټې وي، يو ځل يې په پيل کې او بيا يې په پای کې پر اساسي قانون پښه کېښوده، د ملي يووالي حکومت يې جوړ کړ او د جوزا له لومړۍ نېټې وروسته يې وغځاوه. اوس موقت حکومت د چا د شخصي ګټو لپاره نه، بلکې د افغانانو د سترې هيلې او سترې ګټې لپاره جوړيږي، چې پکار ده مخالفت يې ونه شي. که طالبان ومني چې له موقت حکومت سره به خبرې کوي او سوله به کېږي، نو پکار ده چې جوړ شي او ستونزه حل شي.



# کچالوهای قرمز شده

داستان کوتاه / نویسنده:لطیف آرش

وقتی با کوزه های پر از آب چشمه وارد حویلی شدم، بوی خوشگوار خاک نم دار مثل همیشه به مشامم رسید. مادر صفه و حویلی را آب پاشی و سترنجی کهنه دهلیز را روی آن پهن کرده بود، گرچه ده دقیقه از آذان شام تیر شده بود، اما چون پدر از قریه پایین نیامده بود، هنوز هم دستر خوان به شکل لوله شده درقسمت بالایی سترنجی گذاشته شده بود.
خواهر و برادر کوچکم زیر درخت توت خاک بازی می کردند و مادر در تندور خانه مصروف بود و درهمین حال دروازه کوچه تک تک شد، من سوی دروازه و مادر طرف اتاق رفت؛ وقتی دروازه را باز کردم پدر و الاغ که روی آن یک بوجی قرار داشت پشت دربودند.
پدر مثل همیشه جواب سلامم را زیر لب داد و بوجی نسبتاً بزرگ را از روی الاغ پایین کشید و ریسمان گردن الاغ ره به میخ تبیله نزدیک آخور بست و از انبار خانه‌ی که نزدیک دروازه کوچه قرار داشت، یک بغل کاه آورد و داخل آخور انداخت و الاغ با ولع تمام شروع به خوردنش نمود.
مادر دوشک وبالشت آبی رنگ را که از اتاق آورده بود، روی سترنجی انداخت و با کوزه آب در لبه صفه ایستاده شد. پدر نصوار دهنش را تف کرد و با دیدن کوزه مادر را مخاطب قرار داده گفت:
- آفتوه لگن کجاس؟
- امشو خانه زلمی مهان آمده افتوه لگن نکلی و دست پاک‌ها را مادر زلمی برده .
پدر دست هایش را با شنگ قدیفه‌اش خشک نمود و قبل از آن که روی دوشک بنشیند، مادر از پس خانه رادیو و تف دانی را آورد و نزدیک دوشک گذاشت، باشنیدن آواز رادیو خواهرو برادر کوچکم دست از خاک بازی کشیدند و قبل از این‌که پیش پدر بیایید، مادر دست روی شان راشست، مهتاب تمام حویلی را روشن کرده بود، مادر الکین را روشن کرده و در وسط سترنجی گذاشت، هنوز پدر موج دلخواه خبری‌اش را در رادیو پیدا نکرده بود که من و مادرم از تندور خانه با کاسه‌های بامیه و دوغ آمدیم، پدر که از کاسه در جام برای خودش دوغ می ریخت به مادر گفت: «از حاجی پاینده گل پنج سیر تخم کچالو را قرض گرفتم، اگه خاست خدا بود بعد از نان کشتش می‌کنم بی ازو جویچه هایش بیخی آماده اس.
-کاش بعد از سحری کشت کنی شوانه بی ازو خطر داره، خدا نکرده قصه‌ی جمیل شان نشه.
-دانته بخیر واز کو او زنکه.
-از روز که باغ جمیل شان را بمبار کده مه زیاف می‌ترسم.
-د رمضان همرای کسی کار نداره.
-چطور کار نداره آمریکایا کی به رمضان اهمیت میته.
- زیاف قصه نخان برو داس ها وبیلچه ره پیدا کو.
مادر به گریه خاموشانه اکتفا کرد و برای پیدا کردن داس وبیل با الکین به سوی انبار خانه رفت، پدر بعد از خوردن آب از لبه کوزه قوطی نصوارش را از جیبش بیرون کرد و کمی نصوار زیر لب گذاشت در حالیکه به بالشت تکیه داده بود، یک پایش را دراز و پای دیگرش را به شکل عمودی قات کرده بود، کلاه را از سرش برداشت و بالای عینک زانویش گذاشت.
خواهر کوچکم با دست زدن به رادیو موج را تبدیل کرد ولی پدر آن را دوباره عیار کرد، برادرم که روی زانو قات شده پدر خودش را انداخته بود با دیدن داس‌ها گفت:
- پدر،پدر مم سر زمینا می رم.
پدر با لبخند زدن و نوازش گونه راستش به شکل غیر مستقیم با رفتنش موافقت کرد.
پدر از روی دوشک بلند شد، دست خواهر و برادرم را گرفت و به سوی دروازه رفت. من هم کوزه آب و داس‌ها را گرفته پشت شان حرکت کردم، مادر با الکین در آخر همه می آمد، پدر ریسمان الاغ را باز کرد و بوجی کچالو را روی آن قرار داد، مادر الکین را به دستم می داد، گفت:
- زمینای پالوی چشمه گرنگ اس اشتکا را نبر.
پدر حرف مادر را ناشنیده گرفت و از دروازه خارج شد.
پدر در روشنی مهتاب به رفتنش ادامه داد و منتظر الکین نشد، اما من بخاطر این‌که خواهر و برادر کوچکم زمین نخورند، خودم را نزدشان رسانیدم، پدر بوجی را از دوش الاغ برداشت وکچالوهای آن را به روی صفه کوچکی که در سمت چپ قرار داشت ریخت و الاغ را کمی دور تر از صفه زیر درخت خشکیده چنار بسته کرد و قبل از این که به کار شروع کند، نصوارش را تف کرده و روی لبه پلوان نشست، من رو به روی پدر نشستم و الکین را نزدیکش روی پلوان گذاشتم. پدر از کوزه آب نوشید، آن قدر آب نوشید که در جریان آب خوردن کمی آب روی گریبانش ریخت. وقتی پدر آب می‌خورد، من بعد از مدت‌ها به صورتش متوجه شدم بعد از محفل فراغت مکتبم که پدر آن روز برایم یک بایسکیل خریده بود، این دومین باری بود که به روی پدر زل زده بودم.
تعداد زیادی از تارهای ریشش سفید شده بود و اطراف چشمش نسبت به سال‌های قبل زیادتر چملک گردیده بود، قدری به خمیدگی‌اش افزوده شده و شانه هایش افتاده‌تر از گذشته به نظر می رسید، اما چشم هایش هنوز هم مثل سابق روشن و نافذ بود، پدر چشمان عجیب دارد، وقتی طرف من و مادرم می‌بیند، به طور ناخودآگاه چشمان مان به زمین دوخته می‌شوند.
خواهرم که مصروف بازی با کچالوها بود، صدا زد:
- پدر او بتی.
من هم بدون آن که پدر چیزی بگوید، کوزه را گرفته و به سوی چشمه رفتم، اگرچه مهتاب همه جا را روشن کرده است، اما چراغ کوچک دستی‌ام را از جیبم بیرون کرده روشن می‌کنم.
در دو طرف زمین‌های ما درخت‌های بید، سنجد و توت قرار دارند، بوی خوش گل‌های سنجد تمام فضا را پر کرده است، برگ‌های سبز و جلا دار، درخت‌های بید و توت زیر نور مهتاب بسیار زیباتر به نظر می‌رسد. در اطراف چشمه هم درخت‌های توت، بید و علف‌های قد ونیم قد قرار دارند، چراغ دستی‌ام را روی یکی از شاخچه‌ها آویزان می‌کنم، آب چشمه در این وقت شب شفاف تر از هر زمان دیگر است، آب به حدی شفاف و زلال است که حتا سنگ ریزه های کف چشمه و دانه های ریگ که هنگام جوشش چشمه بالامی آید، قابل شمارش است.
بالای سنگ سفید که در لبه‌ی چشمه قرار گرفته است، می‌نشینم و با دو دست از چشمه آب گرفته به روی صورتم می‌زنم. قطرات آب از روی تارهای ریشم که تازه دور زنخم سبز شده است، دوباره به چشمه فرومی ریزد و ریتم آهنگین تولید می‌کنند. سکوت همه جا را پر کرده است، صدای هیچ جنبده به گوش نمی‌رسد، به ترنم خفیف آب چشمه که از یک جویچه بسیار باریک و کوچک به یک جوی خشکیده می‌ریزد، گوش می سپارم. صدای آب چشمه که به جوی می‌ریزد، روح و روانم را آرامش می‌دهد. به تشنگی خواهرم فکر می‌کنم از جایم بلند می‌شوم، اما قبل از آن‌که کوزه رابیگریم، ناگهان اطراف چشمه به شکل باور نکردنی روشن می‌شود، به حدی روشن می‌شود که حس می‌کنم صبح شده است. درهمین فکر استم و می‌خواهم رویم را برگردانم که صدای انفجار و زمین لرزه شدید مرا به داخل چشمه پرت می‌کند.
آب چشمه بسیار سرد و عمق آن زیاد است، دهانم در قسمتی قرار گرفته که چشمه از آن می‌جوشد. آب با فشار زیاد وارد دهانم می‌شود، به مشکل از جایم بلند می‌شوم و از شاخچه درخت می‌گیرم و تلاش می‌کنم خودم را بالا بکشم، اما شاخچه از تنه درخت کنده می‌شود و دوباره داخل آب می افتم. این بار دست چپم روی یک سنگ کف چشمه می‌خورد، دوباره از جایم بر می‌خیزیم و این بار از شاخچه نسبتاً بزرگ محکم می‌گیرم وخودم را به سمت سنگ سفید می‌کشانم. از قسمت فوقانی سنگ که کمتر لشم است، می‌گیرم و از آب بیرون می ایم و بلافاصله به سوی زمین‌ها می دوم. قبل از این‌که به زمین‌های خودم برسم، پایم در جویچه نزدیک درخت توت بند می‌شود و به شدت زمین می‌خورم.
وقتی به زمین‌های خودم می‌رسم، همه جا را آتش گرفته است، درخت توت، پاهای قطع شده پدر، الاغ و خرمن کاه که کمی دورتر قرار داشت، همه در شعله‌های آتش می‌سوزد، چهار طرفم آتش، آتش، آتش وفقط آتش است.
بوی گوشت سوخته فضا را پر کرده است، وقتی کاملاً نزدیک می‌شوم، پای راست پدر از زانو و پای چپش از بجلک قطع شده و یک آهن پاره در شکمش فرو رفته، اما هنوز زنده است، نعره های که از دهن الاغ آتش گرفته می برآید، مانع شنیده شدن زجه های پدر می‌شود. از دهن الاغ نعره های وحشتناک بیرون می‌شود، من در زندگی چنین نعره های وحشتناک نه شنیده بودم. طرف صفه که خواهرم با کچالوها بازی می‌کرد رفتم، خواهرم روی کچالوها افتاده بود و وقتی بلندش کردم دیگر زنده نبود، تمامی کچالوهای زیر سینه اش سرخ شده بود، یک پارچه آهنی سمت چپ سینه‌اش را شگافته بود، دهن خواهرم باز بود، مثل این‌که قبل از مرگ آب خواسته بود، اما مرگ مجال نوشیدن را برایش نداده بود، با دیدن جسد بی جان خواهرم به طور ناخودآگاه فریاد زدم.
نر، نرگ، نرگس
اما از نرگس هیچ صدای برنیامد، گویا برای ابد لال شده بود.
هرچه دور برم را گشتم از برادرم خبری نبود، گویا آب شده زیر زمین رفته و یا دود گردیده به هوا رفته است. دور تر از بوجی کچالو چپلک زرد رنگ؛ اما خاک آلودش افتاده بود و نزدیک چپلک پای نیمه سوخته قرار داشت.
دوباره نزد پدر رفتم نعره های الاغ دیگر به گوش نمی رسید. خون در اطراف پارچه آهنینی در شکم پدر فرو رفته بود، حلقه زده بود تلاش کردم پارچه را از شکم پدر بیرون کنم، اما فریادهای پدر و فوران خون مانع‌ام شد، دست هایم به شدت می لرزید و بدنم کاملاً داغ آمده بود.
حس کردم پدر آب می‌خواهد، ناخودآگاه سوی چشمه کشیده شدم، در مسیر راه بوی گوشت سوخته و دود کاه خرمن نفس کشیدن را برایم دشوار کرده بود. قبل از این‌که به چشمه برسم، صدای غرش هواپیما در جای میخ کوبم کرد، یک بار دیگر فضای اطراف روشن شدن و بلافاصله زمین به لرزه درآمد و به شدت زمین خوردم.

## لویه څارنوالي: د حبیب الله احمدزي ادعا به د بېلابېلو بنسټونو په حضور کې وڅېړل شي

لويې څارنوالۍ ويلي چې د جنرال حبيب الله احمدزي ادعا به د افغانستان د علماوو سراسري شورا، رسنيو، د افغان ښځو شبکې، د مدني ټولنې بنسټونو او د روڼتيا څار بنسټ په حضور کې وڅېړل شي.
لويې څارنوالۍ د يوه رسمي ليک له لارې له يادو ادارو غوښتي، چې د څېړنې د تر سره کولو په موخه خپل استازي دې ادارې ته ور وپېژني.
په دغه ليک کې راغلي چې د افغانستان اساسي قانون د ۱۴۳مې مادې او د هېواد د نورو نافذه قوانينو په صراحت سره، د جرمي قضيو څېړنه د لويې څارنوالۍ له واکونو شمېرل کېږي.
دغې ادارې له مسلکي او تکړه څارنوالانو




څخه يوه ګډه کمېټه د يادې قضيې د څېړنې په موخه ټاکلې، چې د هېواد نافذه قوانينو په رڼا او د قانوني واکونو په نظر کې نيولو سره د جنرال حبيب الله احمدزي له خوا د لګول شوو تورونو اسناد، مدارک او شواهدو مطالبه او څېړنه يې په پوره امانتدارۍ او بې پرې والي تر سره کړي.
په دغه ليک کې له يادو ادارو په رسمي ډول غوښتنه شوې، چې خپل يو يو استازی دغې ادارې ته ور وپېژني، څو د يادې قضيې د څېړنې پروسه د هغوی په شتون کې بشپړه شي. هغه ادعاوې چې جنرال حبيب الله احمدزي له رسنيو سره څرګندې کړې وې، د جمهوري رياست د پاليسۍ، نظارت او څېړنې مرستيالۍ د ۱۳۹۸ لمريز کال د غبرګولي په شپږمه، د ۱۰۱۰ شمېرې ليک پر بنسټ، د تورونو د قانوني څېړنې او حقايقو د روښانتيا په موخه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت لويې څارنوالۍ ته استول شوې وه.
له دې مخکې هم دغې ادارې د بېلابېلو اعلاميو او له کشفي او امنيتي مراجعو څخه د هغه د جلب په موخه ليک صادر کړی او له جنرال حبيب الله احمدزي څخه غوښتنه شوې وه، څو د خپلو ادعاوو د اثبات په موخه خپل اسناد د قضيې د څېړنې هيئت ته وسپاري او د اجرااتو د نه پرمختګ دليل د اسنادو نه وړاندې کول بلل کېږي.

# بهر مېشتي افغانان او د سولې په پروسه کې د دوی له پامه غورځېدلی رول!!

لیکوال: مارک ټوماس پېټرسون / سرچینه: انټرنشنل پالیسي ډیجېسټ / ژباړه: جواد تیموري

د روان ۲۰۱۹ زېږدیز کال د اپرېل په ۲۳مه په کابل کې د متحده ایالتونو د سفارت شارژدافیر کارن دککر د نږدې ۱۲۰ ځوانو افغان رهبرانو کوربه و. دغه ناسته د «ځوانان او سوله» په نوم د متحده ایالتونو د نړیوالې پرمختیایي پروژې یا (USAID) په ملاتړ جوړه شوې وه. د یادې ناستې ډېری ګډونوال د ټولنې له بېلابېلو قشرونو څخه وو. دغه ناسته د افغانانو لپاره ښه فرصت و، څو په اسانۍ سره د سولې پروسې په تړاو خپل نظرونه څرګند او لومړیتوبونه په ګوته کړي. دا چې اوسمهال د سولې پروسه او خبرې حساس پړاو ته داخلې شوې، نو له همدې کبله دغه ناسته د ګډونوالو لپاره یوه ښه موکه وه، څو پر دې پوه شي چې څنګه کولای شي د سولې په روانو خبرو کې خپل هېر شوی غږ بېرته را ژوندی او د دغې پروسې د بریالیتوب لپاره ګټور ګامونه اوچت کړي.

په یاده ناسته کې په کابل کې د امریکا سفیر جان باس هم د سولې په خبرو کې د افغانانو په ګډون او شتون ټینګار وکړ او زیاته یې کړه: «هرڅوک کولای شي چې د دې ملي پروسې یوه برخه شي، نو له همدې کبله تاسو کولای شی چې د خپلو حقونو، هیلو او راتلونکي په اړه تصمیم ونیسئ».

له لسیزو راپدېخوا څېړونکو او سیاسیونو ځینې وختونه پر دولت او ځینو ګوندونو د دې له کبله نیوکې کړې، چې ځینې وختونه د سولې پروسې پر وړاندې خنډونه جوړوي. خو په افغانستان کې د سولې او ټیکاو راتګ د جګړې د ښکېلو لورو په دوامداره خبرو پورې تړاو لري، که ښکېلې خواوې خپلې ستونزې او اختلافي ټکي د مېز پر سر کېږدي او بحث پرې وکړي، لري نه ده چې په دغه هېواد کې له لسیزو روان کړکېچ ته به د پای ټکی کېښودل شي.

که متخاصمې ډلې په رښتیني ډول غواړي چې په دغه هېواد کې روانې ناخوالې له سوله ییزو لارو پای ته ورسوي، نو ښه لاره دا ده چې دوی په خپلو کې سره کېني او د یو دربیمګړي هېواد یا هم د ملګرو ملتونو د استازو په حضور کې پر هغو موارد بحث او خبرې وکړي، چې دوی یې د یو او بل پر وړاندې په سنګرونو کې کېنولو ته اړ کړي دي. موږ شاهدان یو او په نړیواله کچه ډېرې داسې بېلګې هم لرو، چې په ځینو هېوادونو کې د جګړو ښکېلو لورو تل د ټوپک په ژبه خبرې کولې، خو له اوږدو مبارزو او وینو تویولو وروسته سترې شول او دې پایلې ته ورسېدل، چې له دې لارې نه یوازې دا چې خپلې موخې نه شي تر لاسه کولای، بلکې دوی په خپله د خپلو ملتونو د ماتو او د نړۍ له کاروانه د پاتې کېدو لاملونه دي. نو دوی بالاخره دې پرېکړې ته رسېدلي چې له خپلو مقابلو لورو سره خبرو ته زړه ښه کړي او په اختلافي موارد کې له سوله ییزې زاویې څخه بحث وکړي.

**بهر مېشتي افغانان او د سولې بهیر**

په افغانستان کې جګړو او ناامنیو ډېری افغانان دې ته اړ کړل چې د ښه ژوند، دندې، کار، زده کړې او نورو موخو لپاره د نړۍ ګوټ ګوټ ته د کډوالۍ لاره خپله کړي. په دوی کې ډېری هغه کسان وو چې د ټولنې نسبتاً باسواده قشر ورته ویل کېده، لوړې او نیمه لوړې زده کړې یې کړې وې او له شک پرته چې د هېواد په اقتصادي، سیاسي، ټولنیز او امنیتي وضعیت باندې یې په مستقیمه او غیر مستقیمه توګه اغېز درلود. دوی ډېری هغه استعدادونه وو چې دلته یې روان وضعیت تحمل نه کړای شو او د ښه ژوند په موخه یې کډوالي غوره کړه. په پایله کې له هېواده لرېوالی د دې لامل شوی، چې دوی ونه شي کولای په اسانۍ سره د هېواد په سرنوشت ټاکونکو موضوعاتو کې خپل رغنده رول ادا کړي. ډېری هغه افغانان چې د سولې پروسې په بریالیتوب کې خپل رول لوبولی شي، له هېواده بهر دي او د ځینو محدودیتونو له کبله نه شي کولای چې خپل رول په سمه توګه ترسره کړي.

له افغانستانه د کاري ظرفیتونو او استعدادونو وتو، د دغه هېواد د سولې په پروسې، اقتصادي پراختیا او په دغه هېواد کې د پانګونې پر پروسې ناوړه اغېزه کړې ده. له دې ټولو سره سره، بهر مېشتي افغانان د هېواد د سولې په روان بهیر کې د پام وړ رول لري او دغه رول باید له پامه ونه غورځول شي. له همدې کبله ټول هغه فعالان چې اوسمهال په بهر کې مېشت دي، باید د خپل هېواد پر وړاندې خپل مسوولیت ادا کړي، په ځانګړې توګه هغوی چې په متحده ایالتونو، کاناډا، انګلستان، جرمني او نورو هېوادونو کې مېشت دي.

دوی له بهره د هېواد روان سیاسي وضعیت او مسایل په ښه توګه څارلی شي او په غالب ګومان چې دوی ته به د هېواد ګټې او سولې بهیر تر شخصي ګټو لومړیتوب ولري. دوی په اسانۍ کولای شي چې د افغانستان اوسنی پېچلی سیاسي وضعیت درک کړي او په بې پرې توګه د روانو ناخوالو پر حل فکر وکړي.

یوه ښه بېلګه کولای شو چې د جنوبي افریقا د هېواد لایبریا راوړو. دغه هېواد د افریقا په جنوب کې پروت دی چې په وروستیو کې یې دوې داخلي او ورانوونکې جګړې تجربه کړې دي. دغو جګړو د یاد هېواد ډېری اوسېدونکي او په ځانګړې توګه ځوان او باسواده قشر دې ته اړ کړ، چې خپل هېواد پرېږدي او نورو هېوادونو ته کډوال شي. یو له هغو هېوادونو چې ډېری لایبریایان ورته کډوال شول، هغه د امریکا متحده ایالتونه وو. خو دوی له کډوالۍ سره سره، د هېواد د کړکېچ له حل څخه ځانونه په ټوله مانا ونه ویستل او تر خپلې وسې به یې له نورو هېوادونو څخه د ترلاسه کړې پوهې او تجربې څخه د خپل هېواد د ناخوالو په له منځه وړلو کې ونډه اخیسته. دغه راز دوی په نورو هېوادونو کې لوړې زده کړې وکړې او کله چې دوی ډاډه شول چې په هېواد کې یې د ژوند کولو لپاره شرایط ورته برابر دي، له ډکو مغزونو او منګولو سره خپل هېواد ته ستانه شول او په بیارغونه کې یې خپله فعاله ونډه واخیسته. د لایبریا تجربه د افغانستان او افغانانو د روانو لانجو د حل لپاره یوه ښه بېلګه کېدای شي. دغه راز دا خو ښکاره خبره ده چې په افغانستان کې روانه جګړه یوازې افغاني اړخ نه لري، بلکې په دې جګړه کې ډېری ګاونډي هېوادونه او د نړۍ پیاوړي قدرتونه هم په مستقیمه توګه لاس لري، نو که بهر مېشتي افغانانان په کوربه هېوادونو کې خپل رول ادا کړي او په دغو هېوادونو کې د ملتونو له لوري فشار راوړي، نو له شک پرته چې د جګړې په ډګر او سولې پروسې به ژور اغېز ولري.

سره له دې چې په دې وروستیو کې د افغان سولې په تړاو په سیمه ییزه او نړیواله کچه هڅې ډېرې شوې او په دې پروسه کې تر یوه ځایه پرمختګونه هم شوي دي، خو لا هم ډېر کار ته اړتیا ده چې باید تر سره شي. دغه راز هغه کسان چې ډېر سولې ته تږي دي، هغوی ډېری وخت له هېواده بهر پاتې شوې دي، خو په افغانستان کې په کور دننه بیا واقعیت دا دی چې د دوی غږونه بې ځوابه پاتې شوي دي. اړینه ده هغه سیاستوال چې د افغانستان په روانو چارو کې تر ډېره دخیل دي، د هغوی غږ واوري او په ګډه د سولې روانې پروسې د بریالیتوب لپاره کار وکړي او د خپل هېواد راتلونکی په ګډه وټاکي.

## د سولې عالي شورا: طالبان له افغان حکومت سره د سولې خبرو ته اراده نه لري




په داسې حال کې چې په دې وروستیو کې د امریکا او طالب استازو تر منځ د افغان سولې مذاکرات له ځینو ستونزو سره مخ دي، د سولې عالي شورا ویلي چې طالبان له افغان حکومت سره د سولې خبرو اراده نه لري.

د سولې عالي شورا مرستیال چې د سولې او مصالحې په نامه یوې ناستې ته خبرې کولې، ویلي چې افغان حکومت د سولې په برخه کې هر اړخیزې هلې ځلې کوي او په وار وار یې طالبانو ته د خبرو فرصتونه برابر کړي، خو طالبان له حکومت سره د سولې مذاکراتو هېڅ اراده نه لري او د بهرنیو ځواکونو وتل یوه بهانه یادوي.

د دې شورا چارواکي وایي، طالبانو جګړو ته شدت ورکړی او همدا څرګندوي، چې دغه ډله سوله نه غواړي.

د سولې عالي شورا مرستیال عطا الرحمان سلیم ویلي: «طالبان د سولې خبرو ته تیار نه دي او اصلاً موږ د سولې لپاره هېڅ کار نه دی کړی او نه هم باید چې په دې ډول خپل وخت ضایع کړو، موږ یوازې د سولې فرهنګ د ترویج په اړه کار کړی، چې له نېکه مرغه اوس ډېری افغانان په یوه غږ وایي چې سوله غواړو».

د سولې او مصالحې دغه ناسته چې د روښنا ټولنې له خوا رابلل شوې وه، حکومتي چارواکو هم پکې ګډون کړی و.

د ولسمشرغني مېرمنې رولا غني هم دې ناستې ته ویلي، سوله د افغانانو جدي اړتیا ده، خو په هر قیمت سوله نه غواړي او داسې سوله هم نه غواړي چې تېرې لاسته راوړنې یې ضایع شي.

هغې ویلي: «موږ په دې ټینګار کوو چې په هر قیمت سره سوله نه غواړو، داسې سوله چې یوازې د یو څو ورځو لپاره وي او له هغې وروسته بیا جګړې پیل شي، موږ یوازې تلپاتې او پیاوړې سوله غواړو».

دغه راز یادې غونډې ته د بشري حقونو خپلواک کمېسیون مرستیال جنرال ایوب اصیل ویلي، په افغانستان کې هغه وخت سوله راتلای شي، چې بشري حقونو ته درناوی وشي، خو د هغه په خبره، چې په تېرو لسو کلونو کې شاوخوا ۷۵ زره ملکیان وژل شوي او دا یو ټکان ورکوونکی رقم دی.

د سولې عالي شورا داسې مهال وسله وال طالبان تورنوي چې د سولې خبرو ته اراده نه لري. طالبانو ته نږدې کسان وایي چې طالبان له امریکا سره د سولې مذاکراتو په برخه کې مشکوک دي او له همدې امله یې د چین او ایران په ګډون، د امریکا مخالفو هېوادونو ته سفرونه پیل کړي دي.

## حوثیان: بې پیلوټه الوتکو مو په سعودي کې دوه هوایي ډګرونه په نښه کړي دي



ایراني پلوو حوثیانو ویلي چې پر سعودي عربستان یې د بې پیلوټه الوتکو په وسیله برید کړی، خو سعودي عربستان ویلي چې دغه الوتکه یې ویشتلې ده.

د حوثي یاغي ډلې ویاند یحیی الساري ویلي، چې د بې پیلوټه الوتکو په دغه برید کې د جیزان او ابحا هوایي ډګرونه په نښه شوي دي.

دې ډلې ویلي چې دې بې پیلوټه الوتکې یې د ابحا پر هوایي ډګر یو کروز میزایل هم توغولی دی.

دا په داسې حال کې ده چې د سعودي په مشرۍ ائتلاف چې په یمن کې جګړه کوي، تېره ورځ اعلان وکړ چې د ابحا سیمه ییز هوایي ډګر ته نږدې یوه بې پیلوټه الوتکه یې ویشتلې او نسکوره کړې ده، خو د ائتلاف ویاند ډګروال ترکي المالکي په خپل بیان کې د حوثي ډلې ادعا ته اشاره نه ده کړې.

سعودي عربستان تایید کړې چې په دغه برید کې ۲۶ کسان ټپیان شوي دي.

په همدې حال کې د سعودي ولیعهد محمد بن سلمان ویلي چې د عمان په خلیج کې د تېلو پر دوو ټانکري بېړیو د پنجشنبې د ورځې حمله ایران کړې ده. سلمان له شرق‌الاوسط ورځپاڼې سره په مرکه کې ویلي، ایران پر دې بېړیو چې یوه یې جاپانۍ وه، دا حمله داسې مهال وکړه چې د جاپان لومړی وزیر شینزو ابې په تهران کې و او د ده په خبره، ایرانیانو حتی د ابې د سفر درناوی هم ونه کړ.

هغه پر نړیوالې ټولنې غږ کړی چې د ایران پر وړاندې قاطع دریځ خپل کړي.

نوموړي زیاته کړې چې هېواد یې جګړه نه غواړي، خو د سعودي خلکو، ملي حاکمیت، ځمکنۍ بشپړتیا او ګټو ته د هر راز ګواښ پر وړاندې به لازم اقدام وکړي.

د سعودي ولیعهد پر سعودي عربستان د ایران پلوو حوثي یاغیانو د بې پیلوټه الوتکې وروستي برید ته هم اشاره کړې او ویلي یې دي چې د دې ډلې دا او مخکینۍ حملې د ریاض د هغې غوښتنې اهمیت تاییدوي، چې نړیواله ټولنه باید د ایران پر ضد قاطع دریځ ونیسي.

بلخوا د هغې ناروېژۍ بېړۍ عمله د متحده عربي اماراتو دوبۍ ښار ته رسېدلې، چې د عمان په خلیج کې چاودنه پکې وشوه او اور یې واخیست.

دا کښتۍ درې ورځې په ایران کې وه او یوه بله کښتۍ چې په هغه کې هم په همدې ورځ چاودنه شوې وه، د متحده عربي اماراتو سواحلو ته رسېدلې ده.

متحده ایالتونو پر دې کښتیو د حملې پړه پر ایران اچولې او ویلي یې دي چې د ایران سپاه‌پاسداران انقلاب ځواک ماینونه پکې ځای پر ځای کړي او الوځولې یې دي.

خو تهران دغه تورونه رد کړي او برعکس د ولسمشر ټرمپ اداره تورنوي چې د ایران له خوا د وېرې د خورولو کمپاین یې پیل کړی دی.

## د کتـاب خبـرې

# د لوی فکر جادو

◎ لیکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
◎ ژباړن: میـراحمد یـاد

### دولسم څپرکی
### موخې د ودې لپاره وکاروئ




دا خبره به په دوو فرضي کسانو کې څرگنده کړو، په دې به هم پوه شئ چې دا دوه تنه موږ د خپل چاپېریال له خلکو سره پرتله کولای شو. دا کسان یو ټام نوموو او بل جیک. دا کسان دواړه سره ورته دي. ټام یوه موخه ټاکلې او په هر صورت یې باید ترلاسه کړي، خو جیک بیا موخه نه لري. ټام چې څه غواړي په خپل ذهن کې یې د هغې یو روڼ او روښانه تصویر جوړ کړی دی او لس کاله وروسته ورته ځان د یوه شرکت عمومي رئیس ښکاري.
دا چې ټام خپلو موخو ته تسلیم شوی دی، دا موخه یې د لاشعور له لارې داسې اشارې ورکوي چې: دا وکړه او دا مه کوه. دا موخه ده سره غږېږي. ورته وایي: (زه هغه تصویر یم چې ته یې ربښتیا کوې، نو ماته د را رسېدو لپاره باید داسې عمل وکړې.)
ټام موخه لري او موخه یې ابهام او تیارو ته نه ټېل وهي، بلکې ټولو فعالیتونو ته یې یوه روښانه لاره ټاکي. دی چې جامې اخلي، موخه یې ورسره غږېږي او ښه ټاکنه پرې کوي. دا موخه ټام ته ښیي چې د کاري پرمختګ لپاره باید نور څه وکړي، څه ولولي او کوم دریځ ونیسي. که ټام له خپلې لارې لږ وښوېید، د ده په لاشعور کې ناست لارښود ورته وایي چې لاره دې غلطه کړې ده او بېرته یې سمې لارې ته را بولي.
په ټام به ډېر مسائل اغېز ولري، خو د ده موخه ورته د دې ټولو حساسو مسائلو په اړه معلومات ورکوي.
خو جیک بیا موخه نه لري او له دې امله خپل اتومات لارښود هم نه لري. دی ډېر زر لاره ورکوي. د ده په چارو کې شخصي پالیسي او سیاست نه ښکاري. جیک د موخې نه لرلو له امله په داسې لاره روان دی، چې پر بل سر یې ایله په سخته درې وخته خواړه دي.
اوس دا پورته برخه یو ځل بیا ولولئ، چې سم پرې پوه شئ. بیا خپل چاپېریال ته وگورئ. بریالي خلک مطالعه کړئ. وگورئ چې ټولو ځانونه ټنګه خپلو موخو ته وقف کړي دي. وگورئ چې د بریالیو خلکو ژوند څنګه پر یوه لوی او اساسي هدف متمرکز شوی دی.
ځان خپلو موخو ته وقف کړئ. پرېږدئ چې پر تاسې برلاسې شي او تر ځان پورې ستاسې د رسولو لپاره درته لاره وښیي.
کومه ورځ بې پلانه له کوره وتي یئ؟ په دې ورځ به مو تقریباً هېڅ مثبت کار نه وي کړی. څکه ټوله ورځ گرځو او ماښام تش لاس کور ته را ستنېږو. خو که ورځ مو په یوه پلان پیل کړه، ډېر گټور کارونه پکې کولای شو.
دا درس موږ ته دا تجربه راښیي چې: که کار کوو، نو پلان باید ورته ولرو.
له دویمې نړیوالې جگړې مخکې زموږ ساینسپوهان د اتوم په قوت پوهېدل، خو د اتومي هستې په وېشلو او د دې قوت په ازادولو نه پوهېدل. امریکا چې په جگړه اخته شوه ساینسپوهانو هم دا بالقوه انرژي ولیدله او د یوه ستر بم جوړولو لپاره یې پرې کار پیل کړ. دې کار تاریخ بدل کړ. یوازې څو کاله پرله پسې او متمرکزه هڅه وشوه او دوی خپلې ټاکلې موخې ته ورسېدل. بم یې جوړ کړ او جنگ پای ته ورسېد. که داسې لوی پلان نه وی، نو معلومه خبره ده چې د اټومي وسلې جوړولو پلان به یوه لسیزه نور هم ځنډېدلای وی.
نو موخې وټاکئ او بیا یې د لاسته راوړلو لپاره کارونه پیل کړئ.
زموږ د هېواد لوی تولیدي سیستم ته مدیرانو پلانونه او مهالوېشونه ټاکلي او په پوره جدیت پرې عمل کوي. د خرڅلاو مدیران پوهېږي که د خرڅلاو دقیقه کچه وټاکل شي، نو پلورونکې ډېره سودا پلورلای شي. استادان هم شاگردانو ته ټاکلی وخت ورکوي او دا د دې لامل کېږي چې شاگردان خپل مونوگرافونه په ټاکلي وخت پوره کړي.
نن سبا که غواړئ چې کار په خپل وخت ختم کړئ، نو موخې وټاکئ. ضرب الاجل، کچې او ځان سره شخصي ژمنې. کار هله سم کولای شئ چې سم پلان مو ورته جوړ کړی وي.
ډاکتر جورج ای. بورخ د انساني عمر اړوند مسائلو کارپوه دی او په تولین پوهنتون کې کارکوي. دی پر دې باور دی چې زموږ عمر کې ډېر عوامل دخیل دي، مثلاً: وزن، ارث، خواړه، عصبي فشارونه او شخصي عادتونه. نوموړی وایي: (د زړېدو تر ټولو چټکه لار کار او فعالیت پرېښودل دي. هر انسان باید د ژوند لپاره، له ځینو اړخونو سره علاقه وساتي.)
موږ هر یو خپل ذوق لرو: تقاعد ځینو ته پای دی او ځینو ته پیل. خوب، خوراک، چکرې هغه ذهنیت دی چې انسان زر له پښو غورځوي. څوک چې تقاعد د هدفمند ژوند پای بولي، ډېر زر به پوه شي چې دا د ټول ژوند پای دی.
د کار انگېزه چې نه وي، انسانان ډېر زر له منځه ځي. د گوښه کېدو بله ذهنیت دا دی چې: زه کار کوم او مخ ته ځم.
زما یو ملگری لیو گوردون نومېږي، هغه همدا لاره ټاکلې وه. دی چې د اتلانتا د ستر بانک له معاونیته گوښه کېده، نو جشن یې د پیل غونډې په څېر و. دې سړي څه وخت وروسته خپل ځان د سوداگریز مشاور په توگه ثابت کړ او په دې برخه کې یې ښه پرمختگ وکړ.
دی اوس د څو شپېتو کالو دی، څو پېرودونکي لري او په ښارکې ښه ویناوال هم بلل کېږي. زه چې لیو گورم وینم، ځوان راته ښکاري. د ډېرش کلن ځوان روحیه لري او لږ خلک د دې عمر خوړلي انسان په څېر ژوند کوي.
**دوام لري...**

# ازبکستان

حشمت الله نوري

ازبکستان د افغانستان شمال ته د شمالي عرض البلدونو د ۳۷ او ۴۵ درجو او د ختیځو طول البلدونو د ۴۵ او ٦١ درجو په منځ کې پروت دی. پراخوالی یې ۱۷۲۰۷۷ کیلومتره مربع دی. شمال ته یې قزاقستان، جنوب ته یې افغانستان او ترکمنستان، ختیځ او جنوب ته یې تاجکستان او قرغزستان او لوېدیځ ته یې ترکمنستان موقعیت لري.
ازبکستان د سیحون او جیحون د سیندونو ترمنځ پروت په وچه پورې تړلی هېواد دی. سیحون له دغه هېواد څخه قزاقستان ته ننوزي او بیا اورال ته ځي. جیحون چې لومړی د افغانستان او ازبکستان ټوله سرحدي پوله او بیا د ازبکستان او ترکمنستان ترمنځ لږ سرحدي پوله جوړوي، له ترکمنستانه د ازبکستان خاورې ته ننوزي او بیا له اورال سره گډېږي .
د دغه هېواد پلازمېنه تاشکند ښار دی، د ټولو وگړو شمېر یې څه باندې ۳۳ میلیونه تنه اټکل شوی د، چې په هر کلیومتر مربع ساحه کې یې ۷۴ تنه ژوند کوي. دغه راز ۴۵ سلنه وگړي یې په ښارونو کې ژوند کوي او پاتې ۵۵ سلنه نور یې بیا په کلیو او بانډو کې مېشت دي. د دغه هېواد د قانون له مخې، هره کورنۍ په ټول عمر کې د دوو ماشومانو د درلودو اجازه لري.
ازبکستان د اداري ویش له پلوه پر ۱۲ ولایتونو، یو کورواکه جمهوریت او یو ښار باندې وېشل شوی دی. دغه هېواد ټول ٤٦ ښارونه لري چې مهم یې سمرقند، بخارا، خیوه، فرغانه، نوري، چرچک، زرافشان، المالک او اندیجان دي.
د دغه هېواد ۹۰ سلنه وگړي مسلمانان، نهه سلنه مسیحیان او پاتې نور یې د بېلابېلو دینونو پیروان دي.
د حکومت ډول یې جمهوري دی، د دغه هېواد اوسنی اساسي قانون د ۱۹۹۲ ز کال د ډسمبر په اتمه تصویب شوی، چې په ۲۰۰۲ ز کال کې لږ بدلونونه پکې راغلل. په دغه هېواد کې ډېر دولتي واک د ولسمشر په لاس کې وي، لومړی وزیر او د لومړي وزیر مرستیالان د ولسمشر له خوا ټاکل کېږي. په ازبکستان کې د وزیرانو کابینه د لومړي وزیر په وړاندیز، د ولسمشر او خلکو په خوښه د اوو کلونو لپاره ټاکل کیږي. اسلام کریموف د ازبکستان پخوانی ولسمشر، د خپل هېواد په تاریخ کې ځانگړی ځای لري او د خپل هېواد د بسیاینې لپاره یې ډېرې هلې ځلې کړې دي.
د ازبکستان عالي شورا دوې خونې لري، پاسنۍ خونه یا سنا مجلس یې ۱۰۰ غړي لري، چې ۸۴ یې د سیمه ییزو، اجراییه شوراگانو او ١٦ د ولسمشر له خوا ټاکل کیږي او ټول پنځه کاله کار کوي. دویمه د قانون جوړولو خونه ده چې ۱۵۰ غړي لري او ټول د خلکو په خوښه د پنځو کلونو لپاره ټاکل کیږي.
د ازبکستان د سترې محکمې قاضیان د ولسمشر له خوا د دغه هېواد د عالي شورا په منظورۍ ټاکل کیږي. د دغه هېواد حقوقي نظام لا تر اوسه خپلواکه قضایي سیستم نه لري او د پخواني شوروي اتحاد له مدني قانون څخه کار اخلي.
د خلکو ولسواک گوند، پخوانی کمونست گوند، عدالت ولسواک ټولنپال گوند او د پلار وطنه پرمختگ گوند د دغه هېواد مهم او نفوذ لرونکي گوندونه دي.
ازبکستان د ۱۹۹۱ ز کال د سپټمبر په لومړۍ نېټه له پخواني شوروي اتحاد څخه خپلواکي واخیسته او اوس هر کال همدا ورځ د خپلواکۍ د ورځې په نوم په کې نمانځل کېږي.
ازبکستان په وچه پورې تړلی داسې یو هېواد دی، چې یوازې ۱۱ سلنه خاورې یې د کرلو وړ ده. دغه هېواد د پخواني شوروي اتحاد پر داسې یوه نیستمنه سیمه اباد شوی، چې څه د پاسه ٦٠ سلنه خلک یې په گڼ مېشته کلیوال چاپېریال کې ژوند کوي. پر ازبکستان د شوروي اتحاد د ۷۵ کلن حاکمیت په وخت کې، د دغه هېواد د اقتصادي پرمختگ لپاره ډېر کار وشو. د همدې کار او وروستیو پرمختگونو له امله، ازبکستان اوس د نړۍ له پرمختلونکو هېوادونو څخه گڼل کیږي. کرنه د ازبکستان د اقتصاد غټ سکټور دی، غرونه او د غرونو لمنې د دغه هېواد ۲۲ سلنه خاوره نیولې ده. لرگي، وابښه او انگور د دې سیمو حاصلات دي. دغه هېواد د شوروي د پنبې کرونده بلل کېده، اوس اوس پنبه د ازبکستان په کرنیزو توکو کې ۵۰ سلنه ونډه لري، چې ۱۵ یې په هېواد کې دننه مصرفیږي او نوره بهر ته ځي. ازبکستان د پراخه کروندو د شته والي له امله، د څارویو د روزنې لپاره ښه شرایط لري او ډېر خلک په دې برخه کې پر کار بوخت دي.
ازبکستان د تېلو او گازو سترې زیرمې لري، په فرغانه کې یې تېل په ۱۸۸۰ ز کال کې کشف شوي، چې له ۱۹۰۴ ز کال څخه راپډېخوا ویستل کیږي. له فرغانې وروسته، د حصار د غره په لوېدیځه خوا دریا او بخارا کې هم د تېلو او گازو زیرمې موندل شوې. دغه هېواد د پخواني شوروي اتحاد په جمهوریتونو کې له روسیې او ترکمنستان څخه وروسته، د گازو په تولید کې دریم او په ټوله نړۍ کې لسم ځای لري.
ازبکستان د اوبو ۲۳ ستر بندونه او د برېښنا د تولید فابریکې لري، چې د ټولې منځنۍ اسیا نیمایي برېښنا تولیدوي. په تېرو دریو-څلورو کلونو کې افغانستان له ازبکستان څخه برېښنا واردوي. ازبکستان ۷۹۰ ډوله کاني زیرمې لري، چې اټکلي بیه یې څلورو تریلیون ډالرو ته رسېږي. دغه هېواد د یورانیمو په تولید کې اووم او د سرو زرو په تولید کې اتم ځای لري، چې په کال کې شاوخوا ۸۴ ټنه سره زر تولیدوي.
په دغه هېواد کې د صنایعو پرمختگ ته ډېره پاملرنه کیږي. همدا اوس دغه هېواد په ۱۲۰ برخو کې له ۲۰۰۰ زیاتې فابریکې لري، چې ۵۵ سلنه د درندو ماشینونو د تولید او د کاني موادو د ویستلو او چاڼ په برخه کې کار کوي. ۴۵ سلنه هغه یې بیا د سپکو محصولاتو په تولید او ۳۰ سلنه د خوراکي توکو پر پروسس لگیا دي. په ازبکستان کې څه باندې څلور میلیونه خلک د صنایعو په سکټور کې پر کار بوخت دي.
اوس اوس په دغه هېواد کې مختلط اقتصادي نظام په بریالیتوب سره پرمخ ځي. په دغه هېواد کې خصوصي اقتصاد خپل ځای موندلی او ډېر اقتصادي تشبثات د خصوصي شرکتونو په واک کې ورکړل شوي دي.
د ازبکستان ۱۲ سلنه ځمکه د کرلو وړ ده. د دغه هېواد ۵۰ سلنه ځمکه څړځایونو او پاتې نوره هغه یې ځنگلونو، غرونو، بېدیاوو، سیندونو، ښارونو او د استوگنې کلیوالو سیمو نیولې ده. د دغه هېواد ۴۰ سلنه خلک د کرنې په سکټور کې پر کار بوخت دي او ۲۵ سلنه ناخالص کورني تولیدات هم له همدغه سکټور څخه لاس ته راوړي.
قره قلي پوستکي، وریښم، پنبه، غنم، حبوبات، چغندر، مېوې، سابه، غوښه، لبنیات، هگۍ او سابه د دغه هېواد مهم کرنیز محصولات بلل کیږي.
د ازبکستان غټ تجارتي شریکان روسیه، قزاقستان، ترکیه، بنگله دیش، چین، جنوبي کریا، جرمني او اوکراین دي. دغه هېواد همدا راز ۵۸ هوایي ډگرونه لري چې ۳۵ یې په پاخه او عصري ډول رغول شوي دي.



ددغه هېواد د ټلیفون کود ۰۰۹۹۸ او د انټرنېټ کود یې بیا UZ دی، چې ټولټال یې پنځه میلیونه کسان لاسرسی ورته لري.
د ازبکستان دولت شپږ ټلویزیونونه او شپږ راډیوگانې لري، چې په روسي او تاجکي ژبو خپرونې کوي.
دغه هېواد د ناخالص کورني تولید او سړي سرکلني عاید له امله، د اسیا پرمختلونکی هېواد بلل کیږي. په دغه هېواد کې له ۱۵ کلنو څخه پورته ټول خلک پر لیک او لوست پوهېږي او زده کړه پکې د اوو کلنو ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره وړیا او جبري ده. دولت او خصوصي سکټور دواړه په دغه هېوددا کې د ښوونې او روزنې لپاره یو ځای کار کوي.
ازبکستان د انسانانو د استوگنې یوه لرغونې سیمه ده. ډېرې پېړۍ پخوا د دې سیمې په فرغانه خوارزم او ځینو نورو برخو کې بزگرۍ وده وکړه، چې هندو اروپایي قومونه پکې مېشت شول. دغه هېواد د منځنۍ اسیا او اسلامي تمدن له مهمو ځایونو څخه گڼل کیږي. د اسلامي تمدن لرغوني ښارونه، لکه: سمرقند، بخارا، تاشکند او ترمز په ازبکستان کې موقعیت لري. له میلاد څخه شپږ پېړۍ مخکې د هخامنشیانو د کورنۍ موسس کوروش، نږدې ټوله منځنۍ اسیا ونیوه. له میلاد څخه ۳۳۰ کاله مخکې بیا سکندر ذوالقرنین هغه ستړواکي ړنگه کړه. له میلاد څخه ۲۳۰ کاله مخکې د یونان او باختر پادشاهي رامنځته شوه چې د اوسني ازبکستان په خاوره یې هم واکمني چلوله. وروسته بیا د ترکانو وار شو چې له شمال لوري دې خوا ته راغلي وو.
له میلاد څخه اووه پېړۍ وروسته، اعرابو منځنۍ اسیا ونیوه او د اسلام مبارک دین یې په دغه سیمه کې خپور کړ. د نهمې پېړۍ په پای کې د سامانیانو خپلواکه دولت جوړ شو.
شوروي اتحاد د گرباچف له واکمنۍ وروسته، ازبکستان په خپلو کورنیو چارو کې ډېره کورواکي تر لاسه کړه او اسلام کریموف د دغه هېواد د ولسمشر په توگه وټاکل شو.
ازبکستان د ۱۹۹۱ ز کال د سپټمبر په لومړۍ نېټه د شوروي اتحاد د ړنگېدو په درشل کې خپله خپلواکي اعلان کړه.
ازبکستان او افغانستان خپلو کې ډېرې نږدې اړیکې لري. افغانستان ته لومړۍ هوایي کرښه د کابل او تاشکند تر منځ پرانیستل شوې ده. دا پرمختگ د اعلحضرت غازي امان الله خان په وخت کې شوی و. د افغانستان په شمالي سیمو او کابل کې ډېر داسې خلک اوسي، چې پلرونه یې د منځنۍ اسیا له بېلابېلو سیمو د روسانو د تېرې له امله دې خواته راغلي وو.
په ازبکستان د شوروي اتحاد د واکمنۍ په موده کې د کابل او تاشکند تر منځ اړیکې د مسکو له لارې وې، خو د ببرک کارمل او ډاکټر نجیب الله د واکمنیو په موده کې د افغانستان د شمالي ولایتونو او تاشکند تر منځ د توامیت مخامخ تړونونه لاسلیک شوي او افغان محصلینو د ازبکستان په پوهنتونونو کې زده کړې کولې.
د شوروي اتحاد له ړنگېدو وروسته، افغانستان د ازبکستان خپلواکي په رسمیت وپېژندله او په تاشکند کې افغان سفارت پرانیستل شو. ازبکستان په کابل کې سفارت او د مزارشریف په ښار کې قونسلگري دفتر لري.
د کابل او تاشکند ښارونو ترمنځ د هوا له لارې فاصله ۸۷۰ کیلومتره او همدا راز د وخت توپیر ۳۰ دقیقې دی.

همیانی

# ایا یوازې ژوند کول زموږ روان تهدیدوي؟

ژباړه: امان الله «حنیفي»

د یوې نوې علمي څېړنې پایلو ښودلې، چې یوازې ژوند کول له ځان سره پر ډېرو رواني ناروغیو د اخته کېدو وېره لري. په دغه څېړنه کې د دغو ناروغیو د زیاتوالي لامل هم ذکر شوی دی. موږ په همدې مقاله کې تاسې په همدې اړه پوره معلومات وړاندې کوو.

د کړو وړو غیر منظموالی، اظطراب او له امکاناتو ناوړه استفاده له وېروونکو رواني ناروغیو څخه دي. د څېړنو پر اساس، د ټولې نړۍ د وگړو له درېیو یوه برخه کسان یې د عمر په اوږدو کې دغه ناروغۍ تجربه کوي.

دغه ناروغۍ مشخصاً د هغه چا پر ژوند مستقیم اغېز کوي، کوم چې له دې ناروغیو بده وړي یا تر ځوربړي. خو دې ته په ډېر ارزښت قایلېدو سره ممکن په کلي ډول د یوې ټولنې وگړي د هغه تر اغېز لاندې راشي. په همدې خاطر څېړونکو له دې وېروونکو ناروغیو د خلاصون په پار څېړنې کړې دي.

په دې وروستیو کې په همدې اړه (یوازې ژوند کول او پر روان یې اغېزې) په plos one مجله کې د شویو څېړنو پایلې خپرې شوې دي. په خپرو شویو پایلو کې راغلي، چې د جنسیت او عمر په نظر کې نیولو پرته، ټول خلک له دې گواښوونکې ناروغۍ سره د مخ کېدو احتمال لري. څېړونکو ویلي، اصل کې پر دغو ناروغیو د اخته کېدو اصلي محرک یوازې ژوند کول دي.

په ډېریو غربي هېوادونو کې د هغو کسانو چې یوازې ژوند کوي، شمېر ورځ تر بلې مخ په ډېرېدو دی. دا مسئله څو لاملونه لري، چې له جملې یې کولای شو د هېوادونو د وگړو د اوسط عمر کچه، په پاخه عمر کې د واده کول او د طلاق زیاتېدو یادونه وکړو.

د یوازې ژوند کولو او پر یادو رواني ناروغیو د اخته کېدو په اړه، له دې مخکې هم څېړونکو څېړنې کړې وې؛ خو ډېرې څېړنې هغه وخت د وگړو تر منځ د عمر پر کچه متمرکزې وې.

خو په دې وروستیو کې په فرانسه کې د سن کونټین پوهنتون څېړونکو څېړنې کړې دي. دوی پر ۲۰۵۰۳ کسانو چې د ۱۶-۷۴ کلونو ترمنځ یې عمر درلود، څېړنې کړې دي. دغه راټول شوي معلومات د درېیو دورو له بشپړولو ورسته چې په ۱۹۹۳، ۲۰۰۰ او ۲۰۰۷ ز کلونو کې شوې، یادو متخصیصنو خپاره کړې دي.

د دغو څېړنو گډونوال یا بررسي کوونکې د هغو پوښتنو د ځوابونو پر پیدا کولو مؤظف شوي وو، کومې چې دوی ته ورکړل شوې وې. څېړونکو د پوښتل شویو کسانو پر مخکینۍ اونۍ زیات ټینگار کړی و، چې ایا دوی هغه اونۍ له کوم رواني اختلال سره مخ شوي وو، که نه. پر شویو کسانو(یوازې ژوند کوي) د څېړنو پایلو ښودلې وه، چې هغوی له دې مخکې کلونو او اونیو کې له دې ستونزو سره مخ شوي وو. په ۱۹۹۳ ز کال کې ۸.۸ سلنه وگړو یوازې ژوند کاوه، په ۲۰۰۰ ز کال کې بیا دا شمېره ۹،۸ سلنې ته لوړه شوه او په ۲۰۰۷ ز کال بیا ان تر ۱۰،۷ سلنې ورسېده.

د دې څېړنو پایلو ښودلې چې د جنسیت عنصر ته په ارزښت نه قایلېدل، هم د یوازې ژوند کولو په خوښولو او بالاخره یې پر بدو پایلو پر اخته کېدو مستقیم اغېز لري.

هغه کسان چې یوازې ژوند کوي، د هغو په پرتله چې نه یې کوي، ډېر پر دغه بده لار (د جنسیت عنصر ته په ارزښت نه قایلېدو) روان دي. د هغو څېړنو پایلې چې په دې اړه په انگلستان کې ترسره شوې، ښیي چې یوازې ۸۴ سلنه وگړي، جنسیت ته د نه ارزښت پر ناروغۍ اخته دي.

په دې اړه مخکنیو څېړنو ښودلې چې یوازیتوب، د افسردگۍ او اظطراب باعث کېږي. د یوازې ژوند کولو په اړه د مرگ ژوبلې د کچې زیاتوالی بل هغه لامل دی، چې د څېړونکو توجه یې ور اړولې ده.

خو اوس پوښتنه دا ده چې په دې اړه د دغو څېړنو او اندېښنو موخه څه ده؟

د ځینو څېړونکو په نظر، یوازیتوب او یوازې ژوند کول، په اوس وخت کې نړدې عام شوي دي؛ ځکه خو څېړونکي د دې وېروونکې ناروغۍ د زیاتېدو په اړه اندېښمن دي او د زیاتېدو د مخنیوي په لټه کې یې دي. ځکه یوازې علمي څېړنې دي، چې د دغه مسئلې اصلي ریښې ته ښکته کېدای شي او د کچې د کمېدو لپاره یې کوښښ کوي.

له بل پلوه، نن ورځ د خلکو رواني سلامتیا د بل هر وخت په پرتله له دې خطر سره زیاته مخ ده او موږ هر یو په رښتیا د لسگونو بېلگو عیني شاهدان یو. په دې اړه د څېړونکو د ورکړل شویو سپارښتنو په عملي کولو سره کولای شو، چې تر یوې اندازې یې مخنیوی وکړو.

خو باید په یاد ولرو، هغه کسان چې یوازې ژوند کوي، باید چې ډېر د یوازیتوب احساس ونه کړي. هغوی چې له دغه احساسه رنج وړي، کولای شي پر دغه احساس د برلاسۍ په اړه له واضح شویو سپارښتنو څخه گټه واخلي. له ملگرو سره د پخوا په پرتله د زیاتې هسکې ولاړې، په ټولنیزو مسایلو او غونډو کې په گډون کولو او په کور کې د کورنیو حیواناتو ساتل پر دغه حس د برلاسي عمده لارې دي.

البته د دغو څېړنو د څېړلو پر مهال داسې محدودیتونه هم وو، چې خپله یې څېړونکي په اړه عاجز وو. لومړی محدودیت دا و چې دغه څېړنې پر فرد فرد سرته رسېدلې وې. کېدای شي د یو چا د ژوند چاپېریال، کورنۍ او یا هم خاوند/مېرمن او یا هم بل شخصي مورد د هغوی د دغه اختلال د رامنځته کېدو باعث شوی وي، چې هغه بیا په ټولو د تطبیق وړ نه دی او نه هم تطبیق کېږي.

بل هغه محدودیت د دغو څېړنو د اوږد وخت اخیستل دي، چې څېړونکي یې غوښتنه کوي.

له یوازې ژوند کولو ځان وژغورئ، څومره مو چې له وسه کېږي، هماغومره له نورو خلکو سره یو ځای ژوند وکړئ. په یوازې ژوند کولو کې مو خپل داخلي هغه مهارتونه چې تاسې له نورو ځانگړې کوي او هغه ستاسې د نمونه والي نښې دي، د وخت په تېرېدو سره په تدریج له منځه ځي. خپلې بالقوه وړتیاوې مو مړې کېږي، پر بېلابېلو ناروغیو اخته کېږی او لنډه دا چې هر ورځ به ترخو جام پر سر اړوی.

انسان ټولنیز پیدا شوی او ټولنیزوالی یې د وجود فطري غوښتنه ده. انسان له دې وجې هم ټولنیز طبیعته پیدا شوی، چې په یوازې ځان نه شي کولای خپلې ټولې ستونزې حل کړي. د ژوند د ښه پر مخ بېولو لپاره اړ دی، چې د بل لاس ونیسي او ځان تر یوه ځایه ورسوي.

## په غزني کې د ټاکنو لپاره د نوملیکنې نږدې نیمایي مرکزونه د نا امنیو له امله تړلي دي





د غزني د ټاکنو کمېسیون چارواکي وایي چې په دغه ولایت کې د نا امنیو له امله د نوملیکنې ۱۵۹ مرکزونه تړلي دي.

د غزني د ټاکنو کمېسیون د عامه پوهاوي مسوول ناظر حسین نبي زاده ویلي چې په دغه ولایت کې ټولټال د ټاکنو د نوملیکنې لپاره ٤٠٦ مرکزونه په نښه شوي چې له دې شمېرې ۱۵۹ یې د نا امنیو له امله تړل شوي دي.

نوموړي اندېښنه ښودلې، که دغه سیمې امن نه شي، نو ډېر خلک به له نوملیکنې پاتې شي.

بلخوا د غزني د ټاکنو کمېسیون رییس عبدالنصیر مهمند ویلي چې د پوهنې له وزارته یو مکتوب ورته رسېدلی چې له مخې یې اړ دی چې له ښوونځیو د ټاکنو مرکزونه بل ځای ته انتقال کړي.

هغه زیاته کړې: «زه اوس په همدې بوخت یم، څو زموږ هغه مرکزونه چې په مکتبونو کې دي، بل مناسب ځای ورته پیدا او انتقال یې کړم».

مهمند ویلي چې له گیرو، جغتو، ناوې او اجرستان پرته یې نورو ټولو ولسوالیو ته د نوملیکنې مواد رسولي دي.

نوموړي زیاته کړې چې په ناوې، گیرو او اجرستان ولسوالیو کې د نا امنۍ له امله ټاکنې هم نه ترسره کېږي.

دا په داسې حال کې ده چې له تېرو ۱٦ کلونو راهیسې د دغه ولایت د ناوې ولسوالۍ کنټرول له وسله والو طالبانو سره دی.

بل لور ته د اړوندې موضوع په اړه د غزني د والي ویاند محمد عارف نوري پژواک ته ویلي چې په دې وروستیو کې د دغه ولایت امنیتي وضعیت تر پخوا ډېر ښه شوی دی.

د نوري په وینا، حکومتي چارواکي او د غزني سیمه ییز مسوولین کوښښ کوي چې له ټاکنو وړاندې د دغه ولایت نا امنه ولسوالۍ بېرته امن کړي.

ټاکل شوې ده چې د ولسمشرۍ ټاکنې د روان کال د تلې په شپږمه نېټه ترسره شي. د یادونې ده، په غزني کې د نا امنیو له امله تر اوسه د ولسي جرگې ټاکنې هم نه دي ترسره شوې.

## پوهنې وزارت: په ښوونځیو کې د امنیتي پوستو جوړول د پوهنې پر وړاندې جدي ننگونه ده



پوهنې وزارت ویلي، په ښوونځیو کې د امنیتي پوستو جوړېدل جدي ستونزه ده.

دا په داسې حال کې ده چې د لوگر ولایت د محمداغې ولسوالۍ د ده نو کلي اوسېدونکو تېره اونۍ اته ښوونځي په خپله سیمه کې د امنیتي پوستو د ځای پر ځای کېدو پر ضد په اعتراض کې وتړل.

د پوهنې وزارت ویاندې نوریې نزهت ازادي راډیو ته ویلي، ښوونیزو مرکزونو او ښوونځیو ته نږدې د امنیتي پوستو جوړول د پوهنې پر وړاندې لویې ننگونې دي.

هغې زیاته کړې: «یوازې په ښوونځیو کې یا زموږ تاسیساتو ته نږدې د امنیتي پوستو جوړېدل جدي ستونزه نه ده، بلکې په افغانستان کې حاکم جنگي وضعیت هم پر تعلیمي خدماتو سخت بد اغېز کړی دی».

هغې دغه راز ویلي چې د لوگر په محمداغې ولسوالۍ کې راپورته شوې ستونزه یې له خلکو سره د خبرو له لارې حل کړې او د دغې سیمې له اوسېدونکو یې غوښتي چې د اعتراض او مخالفت څرگندونو لپاره دې ښوونځي نه تړي.

نزهت ویلي: «له یوې اونۍ راهیسې د ښوونځیو دروازې بندې وې، له معارف سره باید د سیاسي یا پوځي اداري په توگه برخورد ونه شي. موږ بې طرفه یو او د ښوونځي دروازې باید د ځان او خپلو ماشومانو پر مخ ونه تړي».

بلخوا د لوگر د پوهنې ریاست هم ازادي راډیو ته ویلي چې ښوونځي پرانیستل شوي، خو په دې اړه یې نور جزیات نه دي ورکړي.

پوهنې وزارت دغه راز ویلي، چې اوسمهال درې اعشاریه اووه میلیونه کوچنیان د جگړې، بېوزلۍ او ناسمو دودونو له امله له پوهې بې برخې دي.

د دغه وزارت ویاندې زیاته کړې چې په ټول هېواد کې ۴۳۰ ښوونځي اوسمهال تړلي دي، چې زیاته برخه یې د جگړې له کبله بند دي.

د ملگرو ملتونو د سازمان په حواله، په افغانستان کې له تعلیمه د محرومو کوچنیانو له ٦٠ سلنه زیاته برخه نجونې دي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۸۰,٤۰ |
| € | ۸۹,٦۰ |
| Rp. | ٥۲٦ |
| ₹ | ۱۱٤۰ |
| ¥ | ۱۱,۳۰ |
| £ | ۱۰۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer Daily
New Vision, New Journey



المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!


flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91
0786 55 55 92
0786 55 55 93
0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستی برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.



دوشنبه د ۱۳۹۸ د غبرګولي ۲۷مه | د ۲۰۱۹ د جون ۱۷مه | دریيم کال | ۳۸۸یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۰ | ۳۵ | ۴۰ | ۳۷ | ۴۱ | ۳۴ |
| ۱۱ | ۱۸ | ۲۰ | ۲۱ | ۲۳ | ۲۰ |

شرعي وختونه: سهار ۰۲:۵۵ | لمر ختل ۰۴:۴۰ | ماسپښین ۱۱:۵۵ | مازیګر ۰۳:۴۱ | ماښام ۰۷:۰۸ | ماخوستن ۰۸:۵۴

## نړۍ



## حوثیان: بې پیلوټه الوتکو مو په سعودي کې دوه هوايي ډګرونه په نښه کړي دي

۳

## هند واشنګټن ته په ځوابي اقدام کې پر ۲۸ امریکايي محصولاتو تعرفې لوړې کړې دي



د واشنګټن له لوري نوي ډیلي ته د سوداګرۍ د کلیدي امتیازونو له لغوه کېدو وروسته، هند په ځوابي اقدام کې د امریکا پر ۲۸ محصولاتو تعرفې لوړې کړې دي.

د هند د حکومت له اعلان سره سم په دغو ۲۸ امریکایي وارداتي محصولاتو کې بادام، مڼې او چارمغز شامل دي، چې له تېرې ورځې راپدېخوا پرې تعرفې لوړې شوې دي.

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د سوداګرۍ په برخه کې سخت دریځ غوره کړی او خبرداری یې ورکړی چې د چین، مکسیکو، کاناډا او اروپایي اتحادیې په ګډون به د ځینو نورو هېوادونو او کمپنیو په خلاف ګمرکي تعرفې لوړې کړي. خو د ټرمپ دغو اقداماتو اقتصادپوهان او سوداګر اندېښنمن کړي، چې سوداګریزې ناندرۍ به د نړۍ اقتصادي وده ورو کړي او په دې سره به نړیوال سوداګریز بازارونه له ستونزو سره مخ شي.

د هند دغه اقدام داسې مهال دی، چې د روان زېږدیز کال د جون په پنځمه، د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د (GSP) په نوم د سوداګرۍ امتیاز پای ته ورساوه، چې هند ورځخه زیاته ګټه کوله او د دغه سیستم پر اساس یې امریکا ته تر پنځو میلیاردو او شپږ سوو میلیونو ډالرو پورې بې تعرفې صادرات کولی شواې.

## اردوغان: له روسیې د S-400 دفاعي سیستم د لېږد چارې به په راتلونکې جولای کې پیل شي



د امریکا له خبرداریو او نیوکو سره سره، د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان ویلي، چې له روسیې د پېرل شویو S-400 توغندیو دفاعي سیستم د لېږد چارې به په راتلونکې جولای کې پیل شي.

نوموړي د تاجکستان په پلازمېنه دوشنبې کې «په اسیا کې د متقابلې همکارۍ او باور جوړونې» له ناستې وروسته خبریالانو ته ویلي: «موږ له روسیې سره د S-400 دفاعي سیستم په اړه خبرې کړې او کار مو پای ته رسولی دی. هېڅ ستونزه نشته، زه فکر کوم چې د دغه سیستم د لېږد چارې به د راتلونکې جولای په نیمایي کې پیل شي».

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې هم انقرې ټینګار کړی و، چې د امریکا فشارونو ته به غاړه کې نږدي او په خپله پرېکړه کې جدي دي.

د امریکا متحده ایالتونو تر دې وړاندې ترکیې ته خبرداری ورکړی و، چې که له روسیې سره د S-400 توغندیو دفاعي سیستم د اخیستو هوکړه لغوه نه کړي، پر دغه هېواد به بندیزونه ولګوي.

امریکا ویلي چې یاد سیستم د ناټو له ستېنډرډونو سره سمون نه خوري او که ترکیه دغه اقدام وکړي، دوی به د اېف ۳۵ الوتکو تړون ورسره لغوه کړي.

## فضل هادي مسلمیار:
## اختلاف روی انتخاب رئیس ولسی جرگه بخش قانونگذاری را فلج کرده‌است




رئیس مشرانو جرگه، خواستار حل اختلاف وکلا روی انتخاب رئیس ولسی جرگه شده و گفته‌است که ادامه این اختلاف، بخش قانونگذاری شورای ملی را فلج کرده‌است.

این نگرانی‌ها در حالی است که حدود یک و نیم ماه، از گشایش دور هفدهم تقنینی شورای ملی می‌گذرد؛ اما تا حال درحالی بنابر اختلاف‌ها در مورد انتخابات ریاست جرگه، این جرگه هیئت اداری ندارد که حدود یک ماه به رخصتی‌های یک و نیم ماهۀ تابستانی شورای ملی باقی مانده است.

دیروز بیست و یکمین نشست عمومی ولسی جرگه، در مورد اختلاف ناشی از انتخابات ریاست جرگه میان کمال ناصر اصولی و میر رحمان رحمانی نیز بی نتیجه پایان یافت.

این در حالی است که انتخابات ولسی جرگه، در اواخر ماه میزان سال گذشته برگزار شده است و این وضعیت، نگرانی برخی اعضای مشرانو جرگه را برانگیخته است.


برخی اعضای مشرانو جرگه در نشست عمومی این جرگه دوام اختلافات در ولسی جرگه را به نفع دولت و ملت ندانسته و از رئیس مشرانو جرگه خواستند که برای حل این مشکل مداخله کند؛ تا بن‌بست پیش آمده مرفوع شود و بخش قانونگذاری دوباره فعال گردد.

آنها همچنان گفتند که با آغاز هفدهمین دور تقنینی شورای ملی، بخش قانونگذاری در این شورا فلج شده‌است؛ زیرا ولسی جرگه رئیس و هیئت اداری ندارد که به امور قانونگذاری بپردازند.

به گفته شماری از اعضای ولسی جرگه، تاکنون بیش از یکصد سند تقنینی به این جرگه غرض تعیین سرنوشت فرستاده شده، پانزده وزارت از سوی سرپرستان اداره می شود و نیاز است که نامزد وزرای برای این وزارت‌ها، بعد از معرفی رئیس جمهور، رای اعتماد ولسی جرگه را از آن خود کنند.

## ژوند

## تازه توت او له ډنګروالي سره یې مرسته



یوې نوې طبي څېړنې ثابته کړې ده چې توت، انګور او نورې مېوې د ((ریسپیراټرول)) په نوم مرکب لري، چې د بدن اضافي وازګې (سپینې وازګې) پر (نصواري وازګه) بدلوي، چې نصواري هغه بیا د بدن له لوري په اسانۍ له منځه ځي.

څېړونکو ښودلې ده چې په دې نوې څېړنه کې د ځان ساتنې او د چاغوالي د درملنې ډېرې طریقې او ستراتیژیانې شته دي. د څېړنې د پایلو د تاکید لپاره د واشنګټن پوهنتون روغتیاپوهانو پر موږکانو تجربه کړې، چې ډېره اندازه غوړ لرونکي خوراکونه یې ورکړل او بیا یې د ورځې پرې ۱۰۰ ګرامه توت او انګور وخوړل، څېړونکو ومونده چې دغو موږکانو نسبت نورو (هغه چې له دې لږه اندازه انګور او توت یې ورکړې وو) ته نږدې ۴۰ سلنه خپل وزن له لاسه ورکړی دی. څېړونکو د خپلو څېړنو د وړاندې کولو پر مهال دې ته اشاره کړې، چې ریسپیراټرول د بولیپینولو ماده ده، چې په ډېرې مېوو کې موندل کېږي او د AMPK په نوم د یوه فعالیت په نامه سپین غوړ پر نصواري هغو بدلوي، چې هغه بیا د بدن په وسیله له منځه وړل کېږي.

## په تېر پسې مه ګرځئ!




تېر وخت هېر کړئ؛ څه ډول چې تېر شوی، همداسې یې ومنئ. هڅه وکړئ چې نن مو ښه وي او څه ډول مو چې زړه وي، هسې یې تنظیم کړئ. کوښښ وکړئ چې ځان په دې برخه کې مسوول وګڼئ، هر سهار چې له خوبه پاڅېږئ، پر مخ مو یوه نوې ورځ پرانیستل کېږي، کېدای شي دا ورځ بله را نه شي. پوهېږئ، نن څومره خوښۍ، مثبتې انګېزې او نوې فکرونه لرئ او تجربه کوئ یې؟

موږ انسانان ټول وخت د سبا لپاره په تمه تېروو، خو کله چې سهار شي، ګورو چې بیا همدا نن دی!

دا چې هر سهار پر موږ لمر را خېژي، باید د خدای پاک شکر ادا کړو؛ د دې لپاره چې پاک خدای یو ځل بیا د سا اخیستو توان راکړ او له دغه فرصته په ګټې اخیستو مو خپلو موخو ته د رسېدو لپاره هڅه وکړه. په خپلو کارونو کې پوره پوره هڅه وکړئ، خو په ژوند کې مینه تجربه کړئ او په مینه کې ژوند تېر کړئ، نو خپله ټوله هڅه وکړئ چې په نن کې ژوند وکړئ، همدا نن، همدا اوس او په همدې شېبه کې مسکې شئ، زړه مو له خوښیو او خوشالیو ډک کړئ!